# د افغانانو لپاره د پیرول نوي کولو اړوند مجازي (آنلاین) سیمینار

AMERICAN BAR ASSOCIATION

Commission on Immigration

Welcome Legal Alliance

هغو افغانانو ته چې د متحدینو د ښه راغلاست عملیاتو (OAW) او متحدینو ته د پناه ورکوني عملیاتو (OAR) د پروګرام له لارې پیرول ورکړل شوی وو، اوس کېدای شي چې د پیرول نوي کولو د شرایطو وړ وي، هغه څه چې دوی ته اجازه ورکوي ترڅو د پیرول ګټو ترلاسه کولو او د کار جواز لرلو ته دوام ورکړي.

د افغانانو لپاره د پیرول نوي کولو اړوند د ښه راغلاست د حقوقي یووالي مجازي (آنلاین) سیمینار یو وړیا، آنلاین حقوقي سیمینار دی چې په (مای یو ایس سي آیس ایس) کې د شرایطو وړ متقاضیانو سره په آنلاین ډول د پیرول – نوي کولو په برخه کې مرسته کوي.

**د لیدنې د وخت د تنظیمولو وختونه: ۰۹:۳۰، ۱۱:۰۰، ۰۱:۳۰، ۰۳:۰۰ (ټول وختونه د ختیځ وخت پربنسټ دي):**

**همدا اوس نوملیکنه وکړئ!**

- **چهارشنبه، د جون د میاشتې (۲۱) نېټه**
- **سه شنبه، د جون د میاشتې (۲۷) نېټه**
- **پنج شنبه، د جولای د میاشتې (۶) نېټه**
- **چهار شنبه، د جولای د میاشتې (۱۲) نېټه**
- **چهار شنبه، د جولای د میاشتې (۱۹) نېټه**
- **چهار شنبه، د جولای د میاشتې (۲۶)**

## تاسو د سیمینار د شرایطو وړ نه یاست، که چیرته:

- تاسو د متحدینو د ښه راغلاست عملیاتو (OAW) او متحدینو ته د پناه ورکوني عملیاتو (OAR) د پروګرام له لارې پیرول نه وي ترلاسه کړی.
- ستاسو پیرول د (۲۰۲۴) کال د جنورۍ له میاشتې وروسته پایته رسېږي.
- تاسو مخکې اسایلم یا د حالت تنظیم (ګرین کارټ) ته غوښتنلیک سپارلی وي.
- تاسو مخکې له مخکې د (myUSCIS) آنلاین حساب ونه لرئ یا د (myUSCIS) خپل آنلاین حساب ته د ورننوتلو معلومات ونه لرئ.
- تاسو د متحده ایالتونو ته له رارسېدلو وروسته، د قانون د تنفیذ له برخې سره کوم ډول مخامختیا (لکه؛ نیول کېدل یا رسمي جرمي تورونه) ولرئ.